


# محدودیت، ځپل او سانسور

## په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي او د بیان آزادۍ وضعیت

می ۲۰۲۴



رواداری
RAWADARI

رواداري يو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشري حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشري حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونې، او د قربانیانو محوره عدالت د کلتور د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پريتوب د اصل په بشپړ رعایت او د بشري حقونو اړوندو ټولو منل شويو نړیوالو اصولو او معیارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشري حقونو د رسغړونې پېښې، څرنگه چې پېښې شوې دي، په ریښتینولۍ رسه خپروي.

# د مطالبو لړلیک


| | |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| د معلوماتو راټولولو طریقه | ۲ |
| لومړی برخه – اطلاعاتو ته د لاسرسي وضعیت | ۳ |
| اطلاعاتو ته د لاسرسي د تضمین لپاره د حقوقي میکانیزم نشتوالی | ٤ |
| د طالبانو په حکومت کې د اطلاعاتو ورکولو طریقې | ۵ |
| اطلاعاتو ته پر لاسرسي د پراخو محدودیتونو وضعه کول | ٦ |
| د بشر حقونو د نقض د پېښو اړوند معلوماتو وړاندې کولو له امله نیونې، تهدید او شکنجه | ۷ |
| د کتابتونونو کنټرول او تفتیش | ۷ |
| اداري فساد او خلکو ته د ځواب وینې او حساب ورکولو نشتوالی | ۸ |
| دویمه برخه- د بیان او رسنیو آزادي | ۱۱ |
| د بیان او مطبوعاتو د آزادۍ د تضمین د قانوني چوکاټونو لغوه کول | ۱۲ |
| د رسنیو او خبریالانو د شمېر کموالی | ۱۳ |
| په رسنیو کې د ښځو پر ګډون وضعه شوي محدودیتونه | ۱۳ |
| د مطبوعاتو پر آزادۍ پراخ محدودیتونه لګول | ١٤ |
| د کنټرول او ځپلو طریقې | ١٦ |
| د معترضانو نیول، شکنجه او وژل | ۱۷ |
| د خبریالانو ځورول، نیول او شکنجه کول | ۱۹ |
| خبریالانو سره د تاوتریخوالي قضیو ته نه رسیدنه | ۲۰ |
| دریمه برخه- پایله او وړاندیزونه | ۲۱ |
| پایله | ۲۲ |
| وړاندیزونه | ۲۳ |

## سریزه

افغانستان کې واک ته د طالبانو د بیا راګرځېدو نږدې درې کاله تیریږي. په دې موده کې په هیواد کې سلګونه رسنۍ د خپلو فعالیتونو بندولو ته اړیستل شوي دي. طالبانو په ایډیالوژیک چلند سره، په سیستماتیکه او هدفي بڼه د بیان پر آزادۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي پر حق محدودیتونه لګولي دي. د مخکنیو قوانینو لغوه کول او ځنډول، د بیان د آزادۍ پر ملاتړو بنسټونو د فشار راوړل، او اطلاعاتو ته پر لاسرسي د نه توجیه کېدونکو محدودیتونو وضعه کول تر ټولو مهم محدودیتونه دي. پر همدې بنسټ، دا مهال په افغانستان کې هغه فعالې رسنۍ چې مخکې یې د بیان د آزادۍ په ترویج او په آزاداه توګه د اطلاعتو په خپرولو کې مهم نقش درلود، خپله خپلواکي او د عمل آزادي یې له لاسه ورکړې، او د وېرې او اختناق د فضا له امله هیوادوالو څخه د آزاد او انتقادي نظر څرګندولو حق هم اخستل شوی دی.

سربېره پر دې، طالبانو هغه قوانین چې اطلاعاتو ته د لاسرسي او د بیان د آزادۍ د حق تضمینوونکي و، لغوه او تعلیق کړي دي، او اوس هیڅ داسې اغېزناک حقوقي میکانیزم نشته چې د حاکمې ډلې د بې ځایه فشار پر وړاندې د رسنیو او خبریالانو ملاتړ وکړي. هغه چاره چې له یو پلوه د بیان د آزادۍ او اطلاعاتو د لاسرسي د حق د پراخ نقض لامل شوې او له بل پلوه د خلکو پر برخلیک اغېزلرونکو تصمیم نیونو کې یې د هیوادوالو د ګډون امکان له منځه وړی دی. د دې راپور موندنو ښودلې چې طالبانو د بشر حقونو بین المللي موازینو ته له هر ډول التزام او خلکو ته د ځواب او حساب ورکولو پرته، د بیان او د رسنیو آزادي ځپلې، او په ځانګړي ډول یې د ښځو خبریالانو پر کار غیر قانوني او تبعیضي محدودیتونه لګولي دي. لکه څنګه چې دا مهال د طالبانو د امر بالمعروف اداري له خوا د وضعه شویو شرایطو په بشپړ رعایتولو سره ډېر کم شمېر ښځې خبریالانې له رسنیو سره پر کار بوختې دي.

سربېره پر دې، د خبریالانو پرله پسې ځورونې، خپلسرې نیونې، شکنجه کول، بندیانول او حتا د شته وضعیت پر وړاندې د اعتراض کوونکو وژل، په ځانګړي ډول د امربالمعروف، اطلاعات او کلتور، استخباراتو او امنیه قوماندانیو له خوا د دې ترڅنګ د کتابتونونو، کتاب پلورنځیو او خپرندویو موسسو پر فعالیتونو د پراخو محدودیتونو لګول، د حساب ورکولو د میکانیزمونو له منځه وړل او تر څنګ یې اداري او مالي فساد، نور هغه مهم موارد دي چې طالبان یې په افغانستان کې له واک ترلاسه کولو وروسته مرتکب شوي دي.

دغه راپور د ۲۰۲۱ کال د آګست ۱۵ څخه د ۲۰۲۴ کال د مارچ تر ۳۱مې نېټې د بیان آزادۍ حق او اطلاعاتو ته د لاسرسي وضعیت ارزوي او تحلیلوي. تمه ده چې موندنې او وړاندیزونه یې د اړوندو بین المللي بنسټونو او مراجعو او حاکمې ډلې د پام وړ وګرځي او په دې ترتیب په افغانستان کې د رسنیو او خبریالانو د کار د ملاتړ لپاره عملي اقدامات ترسره شي.



انځور: سهراب عمر

# د معلوماتو راټولولو طریقه

رواداري په افغانستان کې د بیان آزادۍ، د رسنیو د فعالیت او اطلاعاتو ته د لاسرسي د وضعیت اړوند معلوماتو راټولولو په موخه د ٦١ ښځو په ګډون له ٢٦٤ تنو سره د هیواد په ٢٨ ولایتونو[1] کې مرکې کړې دي. د ښځو پر تعلیم، کار او تګ راتګ د لګول شویو بندیزونو له ښځو سره مرکو ته د رواداري لاسرسی کم کړی، چې له امله یې ښځو سره د مرکو شمېر کم دی. په مرکه شویو کسانو کې قربانیان او د هغوی د کورنیو غړي، عیني شاهدان، خبریالان او د ملي او سیمه ییزو رسنیو مسئولین، مدني فعالان، د دولتي ادارو او اړوندو غیر دلتي سازمانونو او موسسو برحاله کارکوونکي، د خبریالانو د ملاتړو د سازمانونو مسئولین، د کتابتونونو او کتاب پلورنځیو او نورو خپرندویو موسسو مسئولین، یو ټیوبران او د ټولنیزو شبکو کاروونکي ښځې او نارینه شامل دي. سره له دې، په دې راپور کې د راغلیو اطلاعاتو مهمه برخه له یادو سرچینو څخه په مستقیم ډول ترلاسه شوې او د بشر حقونو د بین المللي اسنادو پر بنسټ معلومات تحلیل او ارزول شوي دي.

همدارنګه، په دې راپور کې د رواداري له مخکنیو راپورونو او د بیان آزادۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي د وضعیت اړوند د نورو سازمانونو او مراجعو له راپورونو څخه هم ګټه اخستل شوې. د دې تر څنګ، فرمانونه او نور معلوماتي اسناد چې د طالبانو له خوا خپاره شوي هم د معلوماتو نورې سرچینې دي، چې په دغه راپور کې ترې ګټه پورته شوې.

د رواداري موندنې ښیي چې د هرې ورځې په تېرېدو سره اطلاعاتو ته د هیوادوالو لاسرسی لا سختیږي. ځکه طالبانو په دې برخه کې خورا سخت مقررات او محدودیتونه وضعه کړي او د فشار د بېلابېلو لارو او ابزارو څخه په استفادې، او ویرولو او تهدیدولو سره، په ځانګړي ډول د بشر حقونو د نقض د پېښو د اړوندو معلوماتو د خپرولو مخنیوی کوي. ترلاسه شوي شواهد ښیي چې حاکمې ډلې رسنۍ، خبریالان، قربانیان، عیني شاهدان او د هغوی خپلوان ګواښلي دي چې د بشر حقونو د نقض د قضیو اړوند له معلوماتو خپرولو څخه په کلکه ډډه وکړي. پر همدې دلیل، په دې راپور کې د سرچینو د امنیت د تضمین لپاره د مرکه شویو د شهرت او هم د یو شمېر مشخصو پېښو د دقیقې نېټې او ځای اړوند له جزئیاتو وړاندې کولو څخه ډډه شوې ده.

له بل پلوه، طالبانو په ځینو ولایتونو کې تر خپل امر لاندې ادارو ته هم حکم کړی چې د ادارو د ناستو او تصمیم نیونو له تصویري راپور خپرولو او له همغږۍ او اجازې پرته د احکامو، فرمانونو او نورو مهمو معلوماتو خپرولو څخه ډډه وکړي. دا هغه چاره ده چې په واقعیت کې په هیواد کې د بشر حقونو د نقض د پیښو د اړوندو اطلاعاتو د مهمې برخې د پټېدو لامل شوې. د همدې له مخې، رواداري باور لري چې د بیان آزادۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي اړوند ننګونې او ستونزې تر هغې خورا ډېرې دي چې په دې راپور کې بیان شوې دي.

1 کابل، غزني، هرات، کندهار، ارزګان، بادغیس، فراه، بامیان، دایکندي، ننګرهار، کنړ، میدان وردګ، فاریاب، جوزجان، پنجشیر، خوست، بدخشان، بلخ، بغلان، لغمان، کاپیسا، پکتیا، پکتیکا، تخار، غور، زابل، پروان او هلمند.




انځور: سهراب عمر

## لومړۍ برخه

# اطلاعاتو ته د لاسرسي وضعیت



انځور: سهراب عمر

**اطلاعاتو ته لاسرسی د وګړو منل شوی بشري حق دی چې د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې پېژندل شوی دی. د بشر حقونو د نړیوالې اعلامیې د ۱۹مې مادې پر بنسټ، د دې حق لپاره لازمه ده چې افراد د خپلو عقایدو په درلودلو ویره و نه لري او د اطلاعاتو او افکارو په خپلولو او په ټولو ممکنو وسایلو او د محدودیتونو له ملاحظاتو پرته یې په اخستنه او خپرولو کې آزاد وي.[2] همدا راز، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون هم اطلاعاتو ته د لاسرسي حق تضمین کړی دی.[3]**

یادو اسنادو ژمن دولتونه مکلف کړي چې د دې حق د تحقق په لاره کې د هر ډول خنډونو رامنځته کولو څخه ډډه وکړي، او دغه حق ته د خلکو د لاسرسي د تامین لپاره لازم امکانات او شرایط برابر کړي. خو طالبانو واک ته له بېرته راګرځېدو سره په سیستماتیکه او هدفي بڼه اطلاعاتو ته د لاسرسي حق محدود کړی دی، چې په راروانو کرښو کې به په تفصیل سره بحث پرې کیږي.

**که څه هم چې د طالبانو د اطلاعاتو او کلتور اداري ویلي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون یې اصلاح کړی او د دې ډلې د رهبر له خوا د توشیح کولو په موخه یې کندهار ته لېږلی دی؛ خو د رسنیو مسئولین او خبریالان وایي چې د دې «اصلاحاتو» د منځپانګې په اړه په څه نه دي خبر او دوی سره په دې اړوند هیڅ مشوره نه ده شوې.**

د

## اطلاعاتو ته د لاسرسي د تضمین لپاره د حقوقي میکانیزم نشتوالی

فغانستان د جمهوري اسلامي دولت د قوانینو له مخې اطلاعاتو ته لاسرسی د هیوادوالو لپاره د یو بشري حق په توګه تضمین شوی و. د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت په اساسي قانون کې د بشر حقونو د بین المللي اسنادو په پیروۍ دغه حق په رسمیت پېژندل شوی و.[4] همدا راز، په ۲۰۱۴ کال کې د افغانستان جمهوري اسلامي دولت اطلاعاتو ته د لاسرسي د اسانتیا، له شفافیت څخه ډاډ ترلاسه کولو، او د خبرولو د فرهنګ د پیاوړتیا په موخه اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون تصویب کړ.[5] خو طالبانو واک ته په بیا راستنېدو سره اساسي قانون لغوه او د نورو اړوندو قوانینو پلي کول یې عملاً وځنډول، په دې تر تیب دا مهال اطلاعاتو ته د لاسرسي د تضمین لپاره هیڅ روښانه او اغېزناک حقوقي چوکاټ نشته.

2 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۱۹مه ماده.

3 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، ۲ بند، ۱۹مه ماده.

4 د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، د عدلیې وزارت، اساسي قانون، د ۲۰۰۴ کال تصویب شوی، ۷ او ۳۴ مواد.

5 د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، د عدلیې وزارت، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون، د ۲۰۱۴ کال تصویب شوی.

سربېره پر دې، طالبانو د سختو سیاستونو په پلي کولو سره په ټولو ولایتونو کې اطلاعاتو ته د لاسرسي د کمیسیون په ګډون اطلاعاتو ته د لاسرسي د تسهیل میکانیزمونه منحل کړي دي. دا کمیسیون اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون پر بنسټ د ښځو او نارینو په شمول د ۵ غړو په درلولو رامنځته شوی و، چې تر ټولو مهمه دنده یې له ادارو څخه د اطلاعاتو ترلاسه کولو د پروسې څارنه، د متقاضیانو د شکایتونو ارزونه، د مشورو ورکول او د معلوماتو رسولو د فرهنګ پیاوړتیا وه.[۶]

سره له دې، دا مهال چې په افغانستان کې واک ته د طالبانو د بیا راګرځېدو نږدې درې کاله تیرېږي، اطلاعاتو ته لاسرسی د هرې ورځې په تېرېدو له محدودیتونو او خنډونو سره مخامخ و، او د طالبانو تر کنټرول لاندې اداري هیوادوالو ته د حساب ورکولو د قانوني میکانیزمونو د نشتوالي له امله خپل ځان د معلوماتو په وړاندې کولو مکلف نه ګڼي.

## د طالبانو په حکومت کې د اطلاعاتو وړاندې کولو طریقې

لکه څنګه چې مطرح شوه، طالبان دا مهال هیوادوالو ته د معلوماتو د وړاندې کولو لپاره د هیڅ قانون پیروي نه کوي او په همدې دلیل د اطلاعاتو د وړاندې کولو لپاره هیڅ مشخص میکانیزم نه لري؛ بلکې د دې راپور له موندنو سره سم، طالبان په یو اړخیز ډول او له غیر رسمي لارو څخه په ګټې اخستنې، یواځې هغه معلومات خلکو او رسنیو سره شریکوي چې پخپله یې غواړي. لکه څنګه چې د اداراتو مسئولین معمولاً د وټساپ ټولنیزې شبکې له لارې اعلامیې، فرمانونه او د خپلې خوښې نور معلومات له رسنیو سره شریکوي او رسنۍ پرته له دې چې اړینو جزئیاتو ته لاسرسی ولري، باید کټ مټ یې همغسې خپاره کړي چې د طالبانو له خوا ورسره شریک شوي دي. د بېلګې په توګه، په هلمند او کندهار کې د طالبانو والیانو ټولو ادارو ته امر کړی چې د ادارو د ناستو او تصمیم نیونو د بهیر عکس او ویډیو وانخلي. له دې امر سره سم خبریالان د دولتي ادارو د تصویري راپور جوړولو څخه په سخته منعه شوي دي. سره له دې، په هلمند ولایت کې د طالبانو د اطلاعات او کلتور ریاست معلومات د ږغیز پیغام په بڼه د وټساپ له لارې رسنیو سره شریکوي او دا په دې ولایت کې د اطلاع رسونې او رسنیو سره د معلوماتو شریکولو یواځنۍ لاره ده.

بله طریقه چې طالبان یې د خپلې خوښې اطلاعاتو وړاندې کولو لپاره کاروي د رسنیزو کنفرانسونو جوړول دي، چې ډېری په کابل کې پرته له دې چې د انتقادي پوښتنو د مطرح کولو لپاره فرصت او خوندي فضا موجوده وي، جوړیږي. البته د طالبانو د اطلاع رسونې دغه طریقه په وروستیو کې په ولایتونو کې کمرنګه شوې ده.



انځور: کابل تایمز

6 د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، د عدلیې وزارت، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون، د ۲۰۱۴ کال تصویب شوی، ۱۸مه ماده.

سربېره پر دې، طالبانو تر خپل کنټرول لاندې یو شمېر ادارو کې لکه د هیواد د پلازمېنې په لومړیو واحدونو او د والیانو دفترونو، د استخباراتو ادارو او په ولایتونو کې د امنیه قوماندانیو په دفترونو کې د ویاند او رسنیو برخې هم فعالې کړې دي، چې ډېرى مهال د خپلو لاسته راوړنو او طبیعي پېښو په اړه رسنیو ته معلومات ورکوي. د دې راپور د موندنو پر بنسټ رسنۍ مکلفې دي چې دغه معلومات په خپلو خبري پروګرامونو کې تر پوښښ لاندې راولي، پرته له دې چې د پوښتنې او پلټنې حق ولري.

دریېمه لاره له دولتي رسنیو ګټه اخستنه ده چې طالبان د خپلو سیاستونو او پروګرامونو د تبلیغ لپاره ګټه ترې اخلي. د طالبانو د اطلاعاتو او کلتور، استخباراتو او امربالمعروف ادارې د دې واک لري چې له خپلو پالیسیو سره سم د دې رسنیو منځپانګه کنټرول کړي.

## اطلاعاتو ته پر لاسرسي د پراخو محدودیتونو وضعه کول

د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه تر اوسه طالبانو په شفاهي بڼه ډېر شمېر احکام، دستور العملونه او فرمانونه اطلاعاتو ته پر لاسرسي د محدودیت لپاره وضعه کړي دي. د دې فرمانونو له مخې، اړوندو ادارو سره له همغږۍ پرته د هر ډول اطلاعاتو خپرول منعه دي او رسنۍ یې د خپرولو اجازه نه لري.

**د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د بشر حقونو د نقض د قضیو اړوند اطلاعات، امنیتي او سیاسي پېښې، د مخالفو نظامي جبهو بریدونه، د طالبانو د ډلو تر منځ اختلافات، د ځرځایونو او کرنیزو ځمکو پر سر د کوچیانو او د سیمې د خلکو تر منځ شخړه، د ملي بودجې د لګولو ډول، د اداري فساد اړوند معلومات، د مخکني حکومت د کارکوونکو، خبریالانو او د بشر حقونو مدافعانو وژنې، نیونې او بندیانونې، ښځو سره د تاوتریخوالي او په ځانګړي ډول د اجباري او له وخته مخکې د ودونو قضیې، د طالبانو له خوا د ترسره شویو جرمونو اړوند معلومات او د مدني لاریونونو او عدالت غوښتونکو خبرونه هغه مهم موارد دي چې خپرول یې د رسنیو له لارې په سخته منعه شوي، او د خپرولو په صورت کې د خبریالانو په ځورونې، نیونې او شکنجې تمامیږي.**

سره له دې، یواځې برخه چې اطلاع رسونه پکې اجازه لري هغه معلومات دي چې خپله طالبان یې خپرول غواړي. په نورو ټولو برخو کې او په ځانګړي ډول په مخکې یادو شویو مواردو کې، خبریالان، رسنۍ او خلک حق نه لري معلومات خپاره کړي. په دې برخه کې د استخباراتو، امر بالمعروف، اطلاعات او کلتور ادارې د رسنیو د فعالیت څارنه کوي او د یادو موضوعاتو د خپرولو مخنیوی کوي.

د ۲۰۲۴ کال د فبروري پر ۲۱مه «د طالبانو ریاست الوزرا» تر خپر امر لاندې ټولو ادارو ته امر کړی، چې د فرمانونو، احکامو او نورو مهمو اسنادو، چې د دې ډلې د رهبر او «ریاست الوزرا» د دفتر له خوا صادر شوي په خپلسري ډول په رسنیو، ټولنیزو شبکو او وټساپ ګروپونو کې له خپرولو څخه جدي ډډه وکړي.[7] دغه راز دخوست ولایت دامنیې قوماندانۍ له جنایي جرمونو سره دمبارزې مدیریت دخبریالانو او رسنیو کارکوونکو ته دیو مکتوب په صادرولو سره او د ټولنیزو شبکو کاروونکو ته امر شوی چې د امنیه قوماندانۍ له اجازې پرته د امنیتي پېښو په تړاو هېڅ ډول معلومات خپاره نه کړي.[8] له بل پلوه، د دې راپور له موندنو سره سم، خبریالان او رسنۍ

7 د طالبانو اسلامي امارت، ریاست الوزرا، ۴۰ ۴ شمېره فرمان، د ۲۰۲۴ کال د فبروري ۲۱مه.
8 خوست ولایت د طالبانو امنیه قومندانی د جنایی جرمونو سره د مبارزی مدیریت رسنیو ته لیک

باید د طالبانو د سیمه ییزو مسئولینو سره د مرکې لپاره د اطلاعات او فرهنګ ریاستونو څخه کتبي اجازه ولري او مخکې له مخکې مشخص کړي چې په کومه برخه کې غواړي معلومات ترلاسه کړي. سره له دې، طالبان د قانون خلاف د محدودیتونو په وضعه کولو او پلي کولو سره مهم اطلاعات د خلکو او رسنیو په واک کې نه ورکوي.

## د بشر حقونو د نقض د پېښو اړوند معلوماتو وړاندې کولو له امله نیونې، تهدید او شکنجه

لکه څنګه چې په مخکنیو بحثونو کې مطرح شول، طالبانو په تېرو نږدې درې کلونو کې په هدفي ډول د بشر حقونو د نقض د پېښو اړوند د معلوماتو خپرولو مخنیوی کړی دی. رواداري داسې موارد مستند کړي دي چې یو شمېر خبریالان، عیني شاهدان او د بشر حقونو د نقض د قربانیانو خپلوان له رسنیو او بشري حقونو بنسټونو سره د مرکو او معلوماتو ورکولو له امله نیول شوي، بندیان شوي او شکنجه شوي دي. په دې اړوند یو شمېر قربانیانو او عیني شاهدانو ویلي چې طالبانو هغوی په تهدیدولو سره رسنیو او بشري حقونو بنسټونو ته له هر ډول معلوماتو ورکولو منعه کړي دي. دا چلند له سیمه ییزو رسنیو او خبریالانو سره هم شوی دی، تر دې چې طالبانو یو شمېر خبریالان د بشر حقونو د نقض د پېښو اړوند د معلوماتو د خپرولو له امله نیولي او بندیان کړي دي.[۹]

**د طالبانو د استخباراتو او اطلاعات او کلتور ادارو خبریالانو او سیمه ییزو رسنیو ته خبرداری ورکړی چې د مخکني حکومت د کارکوونکو د هدفي وژنو له خبري پوښښ څخه جدي ډډه وکړي. په همدې دلیل دا مهال په افغانستان کې دننه رسنۍ نشي کولای دغه ډول قضیو ته خبري پوښښ ورکړي.[۱۰]**

د ۲۰۲۲ کال د جولای پر ۲٦مه نېټه د طالبانو د استخباراتو اداري یو سیمه ییز خبریال د فاریاب ولایت په میمنې ښار کې د بشر حقونو د نقض د قضیو اړوند د راپور برابرولو له امله ونیو، چې څو ورځې وروسته د سیمه ییزو مشرانو په هڅو له زندانه خوشې شو، هغه په دې موده کې شکنجه شوی او ناوړه چلند ورسره شوی. په همدې ولایت کې په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۲ کال په اګست میاشت کې طالبانو یو ټولنیز فعال د بشر حقونو د نقض د پېښو اړوند د معلوماتو د خپرولو له امله نیولی او زنداني کړی. سربېره پر دې، رواداري په کندهار ولایت کې داسې قضیې مستندې کړې دي چې رسنیو او بشري حقونو بنسټونو ته د معلوماتو ورکولو له امله د قربانیانو یو شمېر کورنیو د طالبانو له اخطار او تهدید وروسته نامعلوم ځای ته کډه کړې.[۱۰] همدا راز، له همدې ولایت څخه یو مدني فعال رواداري ته ویلي چې د بشر حقونو د نقض د پېښو اړوند له یو تلویزیون سره د مرکې له امله طالبان د شپې له خوا د هغه کور ته ورغلي او هغه یې په مرګ تهدید کړی دی.

همدا راز، طالبانو د هدفي او غیر قانوني وژنو په ګډون د بشر حقونو د نقض د پېښو اړوند د معلوماتو خپرول حتا د قربانیانو د کورنیو او خپلوانو له خوا هم منعه کړي دي. لکه څنګه چې ډېر داسې موارد شته چې د قربانیانو کورنۍ او سیمه ییز خبریالان د دا ډول قضیو اړوند د معلوماتو ورکولو له امله نیول شوي او بندیان شوي دي.[۱۱] سره له دې، طالبان رسنۍ او خبریالان په جدي ډول خاري چې په دې اړه د هر ډول معلوماتو د خپرولو مخه ونیسي. له هلمند ولایت څخه یوې سرچینې ویلي چې د طالبانو د اطلاعات او کلتور اداري د بشر حقونو نقض د پېښو د اړوندو راپورونو د نه خپرولو په شرط او په دې اړه د کتبي ژمنې په اخستلو سره یې ورته د رسنۍ جواز تمدید کړی دی.

9 رواداري، د حذف او ځپلو دوام: په ۲۰۲۳ کال کې د بشر حقونو د وضعیت راپور، د خپرېدو نېټه ۲۰۲۴ مارچ https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024/03/RW_Annual_Report_2023_Dari.pdf


10 رواداري، د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو د وضعیت راپور، د خپرېدو نېټه، ۲۰۲۳ اګست https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf

11 رواداري، د حذف او ځپنې دوام، په ۲۰۲۳ کال کې د بشر حقونو د وضعیت رپوټ، د خپرېدو نېټه ۲۰۲۴ مارچ. https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024/03/RW_Annual_Report_2023_Dari.pdf

## د کتابتونونو کنټرول او تفتیش

طالبانو په افغانستان کې د واک ترلاسه کولو وروسته په ټول هیواد کې د کتابتونونو او خپرندویه موسسو پر فعالیتونو پراخ محدودیتونه لګولي او پلي کړي دي. لکه څنګه چې په دې موده کې لسګونه کتابتونونه، کتاب پلورنځي او نورې اړوندې موسسې د هیواد په بېلابېلو برخو کې د طالبانو د سختو مقرراتو او مالي ستونزو له امله تړل شوې دي.


د دغه راپور د موندنو پر بنسټ، طالبانو یو شمېر کتابونه، خپرونې او ادبي او هنري آثار وېشل او پلورل منعه اعلان کړي او تر اوسه یې ټول دولتي او خصوصي کتابتونونه پلټلي دي. د هغو اسنادو سره سم چې د رواداري په واک کې ورکړل شوي دي د شیعه مذهب اړوند کتابونه، د ایران چاپ کتابونه او په ځانګړې ډول د دیني نوي فکر په برخه کې لیکل شوي کتابونه په یو شمېر ولایتونو کې منعه اعلان شوي دي. همدا راز، طالبانو د افغانستان د قومونو او ملیتونو د تاریخ اړوند کتابونه، پر جهادي رهبرانو لیکل شوي کتابونه، هغه کتابونه چې د طالبانو د نورو مخالفینو په اړه لیکل شوي، هغه کتابونه او مقالې چې د طالبانو او داعش پر ضد لیکل شوي او هغه کتابونه او مقالې چې د سلفیانو په اړه لیکل شوي دي په ټول هیواد کې یې پلور او وېش منعه کړی دی.




**رواداري ته له کابل ولایت څخه یو کتاب پلورونکي ویلي چې طالبانو کم تر کمه د ۱۰۰ کتابونو لیست برابر کړی او د اطلاعات او کلتور او امربالمعروف ادارو کارکوونکي د کتاب پلورنځیو په منظمې څارنې او پلټنې سره دغه کتابونه راټولوي.**

په فاریاب، جوزجان، بغلان، مزارشریف ولایتونو کې د اطلاعات او فرهنګ، استخباراتو او امربالمعروف اداري د ایران چاپ کتابونه، هغه کتابونه چې د شیعه مذهب په اړه لیکل شوي او هغه کتابونه چې د طالبانو پر ضد لیکل شوي را ټولوي. همدا راز، په کاپیسا ولایت کې طالبانو ټولو کتاب پلورنځیو او خپرندویو موسسو ته امر کړی چې د شریعت خلاف کتابونه چاپ نکړي. په کندوز ولایت کې تر اوسه د تاجیکانو، ازبکانو او هزاره ګانو د تاریخ اړوند کتابونه او هغه کتابونه چې د یو شمېر جهادي رهبرانو په اړه لیکل شوي او په بامیان ولایت کې هغه کتابونه چې د هزاره ګانو د تاریخ په اړه لیکل شوي راټول شوي دي. په دایکندي ولایت کې دا مهال هیڅ فعال کتاب پلورنځی تړل شوی. د طالبانو د استخباراتو اداري حتا له چاپ خونو څخه کتبي ژمنه اخیستې چې د دوی له اجازې پرته د طالبانو د پالیسیو مخالف اسناد کاپي او چاپ نکړي. د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ په میاشت کې طالبانو په ننګرهار ولایت کې د یو کتاب پلورنځي مسئول د منعه شویو کتابونو د وېش او د انتقادي شعرونو د خپرولو په تور نیولی دی.

همدا راز، د دې راپور موندنې ښیي چې په کندهار، زابل او هلمند ولایتونو کې د کتابتونونو او کتاب پلورنځیو فعالیتونه ډېر محدود شوي دي او کتاب پلورنځي یواځې اجازه لري چې حماسي او جنګي داستانونه او دیني کتابونه وپلوري. سربېره پر دې په دې ولایت کې لیکوالان اړیستل شوي دي چې د کتاب له خپرولو مخکې د کتاب منځپانګه د تائید لپاره هغه کمیسیون ته ولیږي چې د اطلاعات او کلتور د اداري له خوا توظیف شوی دی.




## اداري فساد او خلکو ته د ځواب ویني او حساب ورکولو نشتوالی

اطلاعاتو ته لاسرسی له دې امله هم مهم دی چې د شفافیت له دودولو او د مالي او اداري فساد په کمولو کې مرسته کوي او هم د خلکو د برخلیک اړوند تصمیم نیونو کې د هیوادوالو د ګډون امکان برابروي. سره له دې، د طالبانو د ادعا برعکس د دوی تر کنټرول لاندې د لوړې او ټیټې کچو ادارو کې د فساد پر شتون شواهد او مدارک شته، په ځانګړي ډول په عدلي او قضایي برخو کې. د بین المللي بنسټونو موندنې ښیي چې افغانستان لا هم د نړۍ تر ټولو فاسدو هیوادونو کې دی.

لکه څنګه چې د شفافیت بین المللي سازمان په خپل وروستي راپور کې ویلي چې د طالبانو تر کنټرول لاندې افغانستان د ۱۸۰ هیوادونو په کتار کې ۱٦٢ او تر ټولو فاسد هیواد دی.

البته دا په داسې حال کې ده چې اطلاعاتو د لاسرسي د نشتوالي او د محدودیتونو او موانعو د وضعه کولو له امله د طالبانو تر کنټرول لاندې ادارو کې د شته فساد فقط یوه برخه افشا کیږي؛ ځکه هغوی په دې برخه کې سخت مقررات وضعه کړي دي او رسنۍ اجازه نه لري د اداري فساد اړوند معلومات خپاره کړي. له بل پلوه، دا مهال د طالبانو د فعالیتونو د څارنې او ورپسې د شفافیت او ځواب ویني او حساب ورکولو لپاره هیڅ اغېزناک قانوني میکانیزم نشته. د هلمند ولایت څخه یوې سرچینې رواداري ته ویلي چې طالبان په دې منطق له خلکو اطلاعات پټوي چې افغانستان کې یې اسلامي نظام رامنځته کړی او خلکو ته د هیڅ ډول ځواب ویني اړتیا نه لري. ځکه په باور یې اسلامي حاکمیتونه الهي منشا لري او طالبان هم یوازې د خدای پر وړاندې ځواب ویونکي او حساب ورکوونکي دي.

**طالبان وايي چې د بودجې د مصرف څرنګوالی محرم معلومات دي چې باید خوک ورته لاسرسی و نه لري.**

له بل پلوه، ترلاسه شوي معلومات ښیي چې طالبان د ملي بودجې د مصرف او انکشافي پروژو د ډول په اړه خلکو ته حساب نه ورکوي. په دې برخه کې له کابل څخه یوې سرچینې رواداري ته ویلي چې طالبان شرایطو، مراحلو او قانوني پروسو ته له پاملرنې پرته د انکشافي پروژو قراردادونه ډېری خپلو اړوندو شرکتونو ته ورکوي، خو رسنۍ یې په اړه د راپور او معلوماتو خپرولو اجازه نه لري. همدا

راز، رسنۍ او هیوادوال نشي کولای طالبانو څخه د ملي بودجې د مصرف د څرنګوالي په اړه او په ځانګړي ډول د دې ډلې د رهبرانو د بې حده او بې پولې صلاحیتونو او دفتري مصارفو په اړه معلومات ترلاسه کړي. د بېلګې په توګه له فراه ولایت څخه مرکه شویو رواداري ته ویلي چې که یو څوک د طالبانو د ادارو د بودجې د مصرف د څرنګوالي په اړه معلومات وغواړي د طالبانو د استخباراتو له خوا نیول کیږي او پوښتنې ګروېږنې ترې کیږي چې ولې په دې اړه پلټنه کوي؛ ځکه له بل پلوه، له خلکو څخه په بېلابېلو پلمو پیسې اخستل او له واک څخه ناوړه استفاده د طالبانو تر کنټرول لاندې ادارو کې یوه معمول چاره ده. د بېلګې په توګه د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د استخباراتو اداره خلک د وسلې درلودلو په تور نیسي او بندیانوي یې او د ډېرو پیسو په بدل کې یې بېرته خوشې کوي. همدا راز، داسې موارد هم شته چې طالبانو د نیول شویو کسانو له کورنیو څخه د هغوی د خلاصون په بدل کې د پیسو غوښتنه کړې. په یو مورد کې د ۲۰۲۳ کال په ډسامبر میاشت کې طالبانو په کابل ښار کې یو تن د اسنادو د جعل په تور ونیو او وروسته یې د هغه له کورنۍ څخه د شل لکه افغانیو غوښتنه کړې چې یاد کس خوشې کړي.

سربېره پر دې له خلکو څخه د عشر او زکات اخستل بل مورد دی چې طالبان ورته هیڅ ټاکل شوی معیار نه لري. لکه څنګه چې بېلابېلې اداري لکه حج و اوقاف، کرنه او مالداري، د ښارونو امنیتي حوزې هر یو د عشر او زکات تر نامه لاندې تر کومه ځایه چې یې وس رسیږي له خلکو څخه مالونه اخلي. د بېلګې په توګه، د دایکندي ولایت په مرکز کې د طالبانو ٦ امنیتي حوزې له ۳۰۰۰۰ څخه تر ۳۵۰۰۰ افغانۍ عشر او زکات د راټولولو سربېره خپل نور لګښتونه لکه د ژمي د سوند توکي هم د سیمې له خلکو څخه اخلي.[۱۲]

سره له دې، له کابل څخه بېلابېلو سرچینو رواداري ته ویلي چې طالبان له قانوني پروسې څخه بهر په غیر رسمي بڼه یو پاسپورټ په ۱۰۰۰ امریکایي ډالر پلوري. په دایکندي ولایت د طالبانو سیمه ییزه اداره په ۲۰۲۳ کال کې له یوې موسسه څخه ۵۰۰۰ امریکایي ډالره غوښتنه کړي وه ترڅو دوی ته د پروژې د پلي کولو اجازه ورکړي. دغه راز داسې ادعاوې هم شته چې په دغه ولایت کې سیمه ییز چارواکي هم له بشري مرستو خپله برخه اخلي. د بېلګې په توګه، له ۲۵۰ کورنیو مرستو څخه ۵۰ ونډې د سرې میاشتې له خوا، ۲۵ ونډې د ولایت مقام او ۵۰ ونډې د استخباراتو ادارو او امنیه قوماندانۍ لپاره دي. د دې حساب سره، یوازې ۱۲۵ ونډې پاتې کیږي چې وړ خلکو ته وویشل شي. د بدخشان د راغستان ولسوالۍ اوسېدونکې وايي، کله چې یې له یوه طالب څخه وپوښتل، چې د دې ولسوالۍ د سرو زرو له کان اخیستل شوي عواید چیرته مصرف کیږي، نو وهل او ډبول شوې ده. له دې سره سره له دې ولایت مرکه کوونکو ویلي، چې د «راغستان» او «کوهستان» د سرو زرو او د کران او منجان د لاجوردو کانونو عواید د طالبانو جیبونو ته ځي. لکه څنګه چې په «کوهستان» او راغستان ولسوالیو کې د سرو زرو کانونه په ناقانونه توګه د بدخشان د پخواني مرستیال والي چې اوس مهال د لغمان ولایت امنیه قوماندان مولوي نجیب او مولوي امان الدین د قاري فصیح الدین اړوند کسان د لاجورد کان په غیر قانوني ډول استخراج کوي. «کران» او «منجان» ولسوالۍ او ځینې کوچني کانونه لکه «بیروج»،او «اکامرین» او نیمه قیمتي ډبرې په «جرم» او «خاش» ولسوالیو کې استخراجیږي.

سره له دې، او د اختناق فضا او پر هیواد حاکمې ځپونکې واکمنۍ ته په کتو چې د رسنیو د عمل ازادي سلب شوې او هم هیوادوال نشي کولای مهمو اطلاعاتو لکه دولتي اسنادو او ملي بودجې او د مصرف راپور ته یې لاسرسی ولري، نو د طالبانو د اداري په لوړو او ټیټو کچو کې د فساد په اړه جدي اندېښنې شته.

12 رواداري، پر شا تګ او څپنه: په افغانستان کې په ۲۰۲۲ کال کې د بشر حقونو د وضعیت راپور.



انځور: سهراب عمر

## دویمه برخه

# د بیان او رسنیو آزادي



AFP/Bulent Kilic

**د بیان آزادی د وګړو یو تر ټولو مهمو بشری ځخه دی، چې په بین المللي اسنادو کې لکه د بشر حقونو نړیوالې اعلامیې او د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق کې تضمین شوی دی. د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق ۱۹مې مادې له مخې هر څوک د بیان د آزادۍ حق لري او کولای شي خپل نظریات د نورو له مداخلې او خنډ پرته بیان کړي. دا حق د څېړنې او د اطلاعاتو او هر رنګه افکارو د ترلاسه کولو او خپرولو آزادي رانغاړي چې له پولو پرته که په شفاهي بڼه وي که د لیکنې یا چاپ په بڼه وي او که په هنري بڼه او یا هره بله وسیله وي خپله د فرد په انتخاب پورې اړه لري.[۱۳] پر همدې بنسټ، د بیان د آزادۍ حق د بشر حقونو د نورو مصادیقو د تحقق لپاره یو ضروري مخکې شرط دی او دولتونه دنده لري چې دې حق ته د درناوي تر څنګ د مناسبو اجرایي او قانوني اقداماتو په ترسره کولو سره یې تضمین کړي.**

سره له دې، طالبان د بشر حقونو بین المللي اسنادو او مخکنیو قوانینو ته له اعتنا پرته، چې د بیان او مطبوعاتو آزادي یې تضمین کړې وه، لغوه کړي دي او په دې ترتیب یې پراخ محدودیتونه لګولي دي لکه سانسور، د رسنیو د خپرونو د محتوا سخت کنټرول، او د رسنیو د کارکوونکو پر لباس محدودیتونه.

## د بیان او مطبوعاتو د آزادۍ د تضمین د قانوني چوکاټونو لغوه کول

طالبانو واک ته له بیا راستنېدو سره سم د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت اساسي قانون لغوه کړ او د بیان او مطبوعاتو د آزادۍ د حق د تضمین ټول حقوقي میکانیزمونه یې هم له منځه وړي دي. لکه څنګه چې دا مهال یې د ډله ییزو رسنیو د قانون اجرا چې د مخکني اساسي قانون د احکامو په پیروۍ او د بیان د آزادۍ، د خبریالانو د حقونو د ملاتړ او د رسنیو د آزاد فعالیت د شرایطو د تامین، ترویج او د ټولنیزو رسنیو د پراختیا، استقلال او ګڼوالي په موخه تصویب شوی و، په عمل کې ځنډولی دی.[۱۴]

د همدې له مخې، دا مهال چې د بیان آزادۍ د حق او په افغانستان کې د آزادو رسنیو د فعالیت د ملاتړ د تضمین لپاره عملاً هیڅ قانون نه پلي کیږي او طالبانو په دې موده کې په سیستماتیک او پروګرام شوي ډول د رسنیو فعالیت د هرې ورځې په تېرېدو سره لا محدود کړی دی. لکه څنګه چې استخبارات، امربالمعروف او اطلاعات او فرهنګ اداري په جدي توګه د رسنیو فعالیت او حتا د ټولنیزو شبکو کاروونکي څاري او کنټرولوي. هغه وضعیت چې له یو پلوه له یوې خوا سلګونه چاپي، او انځوریزې او غږیزې رسنۍ په

13 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، د ۱۹٦٦ کال تصویب شوی.

14 د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، د عدلیې وزارت، د ټولیزو رسنیو قانون، ۲۰۰۹ کال د جولای ٦ تصویب شوی.

تېرو نږدې درې کلونو کې بندې شوي دي او له بل پلوه يې په پایله کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ارتکاب، ځان سانسوري او د رسنیو ځپل زیات شوي دي.

## د رسنیو او خبریالانو د شمېر کموالی



په تېرو نږدې درې کلنه موده کې د سلګونو رسنیو فعالیت لکه د چاپي، غږیزو او تصویري رسنیو فعالیتونه بند شوي دي. د طالبانو له خوا پراخ محدودیت او هم اقتصادي ستونزې په افغانستان کې د دې رسنیو د بندېدو تر ټولو مهم دلایل دي. د افغانستان د خبریالانو د مرکز د معلوماتو پر بنسټ، د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت له سقوط وروسته او د طالبانو له راتلو سره په هیواد کې د فعالو ٦٠٠ رسنیو نیمایي یې د اجرا شویو محدودیتونو او اقتصادي ستونزو له امله تړل شوې دي.[۱۵]

همدا راز، په تېرو ۳۱ میاشتو موده کې د پام وړ خبریالانو د امنیتي تهدیدونو، فشار او د حاکمې ډلې له خوا د ځپلو، د یو شمېر رسنیو د فعالیتونو د بندېدو او هم د اقتصادي ستونزو له امله خپل کارونه له لاسه ورکړي دي، او یا د هیواد پرېښودو ته اړ شوي دي. ډېری خبریالان چې په هر دلیل نه دي توانېدلي چې هیواد پرېږدي دا مهال په نامناسب اقتصادي وضعیت کې ژوند کوي.

## په رسنیو کې د ښځو پر ګډون وضعه شوي محدودیتونه

طالبانو په رسنیو کې د ښځو د ګډون او نقش په اړه غیر قانوني او پراخ محدودیتونه لګولي دي. لکه څنګه چې یواځې د هیواد په یو شمېر برخو کې[۱۶] محدود شمېر ښځې د امربالمعروف اداري له خوا د وضعه شویو شرایطو د رعایت په شرط له رسنیو سره کارونه کوي. د تور ماسک اچول او د پام وړ حجاب رعایت په رسنیو کې د ښځو د کار شرط دی. سربېره پر دې، ښځې خبریالانې اجازه نه لري چې په ګډه له نارینه همکارانو سره خپرونه وکړي او هم نشي کولای د طالبانو له مسئولینو سره مرکه وکړي او یو شمیر ولایتونو کی په عمومي پروګرامونو لکه رسنیزو کنفرانسونو کې د خبریالې په توګه ګډون وکړي.


انځور: سهراب عمر

همدا راز، په یو شمېر ولایتونو کې لکه په غزني او بدخشان کې ښځې یواځې کولای شي د دیني او روغتیایي خپرونو پرمخ وړلو کې په راډیوګانو کې دنده اجرا کړي. د ۲۰۲۱ کال د نوامبر پر ۲۰مه نېټه په غزني کې د طالبانو د اطلاعات و کلتور ریاست په رسنیو کې د ښځو ګډون منعه اعلان کړ؛ خو د خبریالانو د ملاتړو یو شمېر بنسټونو د عدالت

15 د افغانستان د خبریالانو مرکز، د ۲۰۲۳ کال دمی ۲مه: https://afjc
16 کابل، هرات، ارزګان، جوزجان، کندهار، لغمان، ننګرهار او بدخشان بامیان او غزنی

غوښتني پە پایله کې طالبانو وروسته په دې شرط پە رسنیو کې د ښځو حضور ومانه چې د امربالمعروف اداري له خوا د ټاکل شوي بشپړ حجاب رعایت کړي او یواځې پە دیني او روغتیایي خپرونو کې برخه واخلي. پە کندهار ولایت کې طالبانو دوه کاله مخکې له سیمه ییزو رسنیو وغوښتل چې د ښځو ګډون محدود کړي او اوس یواځې ۵ ښځې د تعلیم او تبلیغاتو پە برخه کې او ۲ نورې ښځې د دې ولایت پە رسنیو کې د ښځو اړوند خپرونو د جوړوونکو په توګه کار کوي، چې یواځې د اړینو چارو لپاره دفتر ته ځي. د طالبانو یو لوړ پوړي مقام پە دې ولایت کې یو رسنیز فعال ته ویلي چې پە رسنیو کې د ښځو د فعالیت او حضور پە برخه کې د اجرا شویو محدودیتونو اړوند خبرې ونکړي، ځکه دا یوه «اسلامي مساله» او د طالبانو د مشر شفاهي امر دی.

پە هلمند ولایت کې د طالبانو د اطلاعات او کلتور اداري رسنیو ته امر کړی چې ښځو سره له مرکو او د هغوی د غږ خپرولو څخه ډډه وکړي. پە هلمند ولایت کې طالبانو د ماشومانو د ګوزڼ پە اړه د یونیسف تبلیغاتي پیغام چې د ښځې پە غږ کې ثبت شوی و، بند کړ. د ۲۰۲۳ کال د فبروري پر ۲۸مه نېټه طالبانو پە بدخشان ولایت کې دوه تنه یوټیوبران له دې امله ونیول چې پە خپله یوه خپرونه کې یې له ښځو سره مرکې کړې وې او هغوی ماسک نه و اچولی. له کابل ښار څخه د یوې رسنۍ مسئول رواداري ته ویلي چې که د ښځو خبریالانو یو تار ویښته هم ښکاره شي د هماغې رسنۍ مسئول د طالبانو له خوا ورغوښتل کیږي او تهدیدیږي. هغه همدا راز ویلي چې د استخباراتو اداري رسنیو ته امر کړی چې باید د ښځو د حقونو فعالان او پە بهر کې مېشتې د طالبانو د سیاستونو ښځینه منتقدینې پە خپلو خپرونو کې دعوت نه کړي.

د یادونې وړ ده چې د هیواد پە ډېری برخو کې طالبانو ښځو ته اجازه نه ده ورکړې چې رسنیو سره کار وکړي. د بېلګې پە توګه پە پروان ولایت کې طالبانو سیمه ییزې رسنۍ ګواښلي دي چې د ښځینه خبریالانو د ګمارنې پە صورت کې به قانوني چلند ورسره وشي. پە همدې موخه د استخباراتو اداري د دې ولایت د رسنیو مسئولین څو ځلې ورغوښتي او له هغوی څخه یې ژمنه اخستې چې ښځې خبریالانې استخدام نه کړي. پە کاپیسا ولایت کې هم سیمه ییزو مسئولینو ته پە شفاهي توګه امر شوی چې هیڅ ښځه باید پە رسنیو کې کار و نه کړي. پە جنوب-ختیځ ولایتونو کې نه یواځې ښځې پە رسنیو کې د کار حق نه لري بلکې د غږ خپرول یې هم منعه شوي دي. همدا راز، پە مرکزي سیمو کې هم ښځو ته پە رسنیو کې د کار اجازه نه ده ورکړل شوې.

سربېره پر دې، پە تېرو نږدې دري کلنه موده کې لسګونه چاپي، تصویري او غږیزې رسنۍ چې د ښځو له خوا مدیریت کېدې، تړل شوې دي. طالبانو پە کندهار او هلمند ولایتونو کې دوه سیمه ییزې راډیوګانې چې د ښځو اړوند وې، او پە فراه ولایت کې د ښځو اړوندې دوه راډیو ګانې تړلې دي، او هم یې د دې ولایت ښځو ته خبرداری ورکړی چې باید رسنیو سره کار و نه کړي. همدا راز، طالبانو پە یو شمېر ولایتونو کې رسنیو ته امر کړی چې باید د هیڅ هغه پروګرام راپور خپور نه کړي چې ښځې پکې ګډون لري او هم ښځې حق نه لري له دیني خپرونو پرته د رسنیو پە ژوندیو خپرونو کې اړیکه ونیسي او خپلې پوښتنې مطرح کړي.

## د مطبوعاتو پر آزادۍ پراخ محدودیتونه لګول

د بشر حقونو د بین المللي اسنادو پر بنسټ د بیان او مطبوعاتو پر آزادۍ د هر ډول محدودیت لګول باید مشروع او قانوني وي، یعنې له دې حق څخه پر ګټې اخستنې لګول شوی محدودیت باید د قانون پر بنسټ او د ډیموکراتیکې ټولنې اړتیا وي.[17] پر همدې بنسټ، د هر ډول غیر مشروع محدودیت د لګولو اقدام د بین المللي اسنادو د مفادو مخالف او د بشر حقونو د نقض مصداق ګڼل کیږي.

17 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی.

د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه تر اوسه چې طالبان واک په لاس کې لري، په هدفي بڼه یې د بیان او مطبوعاتو آزادۍ ځپلې دي، دا مهال د افغانستان د ټولو فعالو رسنیو استقلالیت او د عمل آزادي سلب شوې او هغوی د ځپنې او اختناق د فضا له امله نشي کولای خپلواک او انتقادي راپورونه خپاره کړي. د طالبانو د سیاستونو بې قید و شرطه منل په افغانستان کې د رسنیو او مطبوعاتو د فعالیت مخکې شرط دی، او هم د صادر شویو فرمانونو پر بنسټ، هر ډول راپور او تحلیلي خپرونه د اطلاعات او کلتور ریاست په اجازې پورې تړلې ده. لکه څنګه چې د طالبانو د اطلاعات و کلتور اداري رسنیو ته امر کړی چې په خپلو تحلیلي خپرونو کې باید د منتقدو او مستقلو کارپوهانو پر ځای طالبان دعوت کړي. له سیمه ییزو سرچینو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د ۲۰۲۱ کال د نوامبر پر ۲۲مه نېټه د طالبانو د امربالمعروف اداري یو فرمان صادر کړ چې په هغې کې رسنیو ته امر شوی چې د طالبانو د اسلامي امارت د سیاستونو د منتقدو شنونکو له مرکو خپرولو څخه ډډه وکړي او رسنیزو بحثونو ته یې دعوت نکړي.

**همدا راز د تېرو نږدې درې کلونو په اوږدو کې طالبانو د رسنیو په سختې څارنې او کنټرول سره او د ځپلو او د سانسور د بېلابېلو لارو او ابزارو په کارولو سره مخنیوی کړی دی د هغو موضوعاتو خپرولو مخنیوی کړی دی چې د دوی د غوښتنو او ایډیالوژیکو ګټو پر ضد دي. د سیاسي او امنیتي مسایلو اړوند خبرونه، د بشر حقونو د نقض د پېښو پوښښ، اسلامي امارت څخه د هیوادوالو شکایت، د طالبانو له خوا ارتکاب شوي جرایم، د مدني اعتراضاتو، د ملي مقاومت جبهې او د آزادۍ جبهې د فعالیتونو خپرول، په یو شمېر ولایتونو کې د ښځو حضور منعه کول، له ښځو سره د نارینه وو او یا برعکس مرکو او په رسنیو کې د ښځو د څېرو ښودل هغه مهم موارد دي چې د طالبانو له خوا په یاده موده کې پلي شوي دي.**

همدا راز، د ۲۰۲۲ کال د سپتامبر پر ۹مه نېټه په دایکندي ولایت کې د طالبانو د اطلاعات او کلتور رئیس له خبریالانو سره په یوه ناسته کې د دې ډلې د رهبر ملا هیبت الله څخه نقل قول کړی چې هیڅ رسنۍ د طالبانو د نقدولو حق نه لري، او هره رسنۍ چې دا کار وکړي مجازات کېږي او فعالیت یې بندیږي. په یو بل مورد کې د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ په میاشت کې په دې ولایت کې د طالبانو د استخباراتو رئیس رسنیو ته ویلي چې که د طالبانو د اسلامي امارت پر ضد خبرونه او راپورونه خپاره کړي و به نیول شي او بندیان به شي.

سره له دې، طالبانو په لومړي اقدام کې د موسیقۍ، تبلیغاتي پیغامونو او هغو سریالونو خپرول چې په هغې کې ښځو نقش لوبولی وي، او هم د طالبانو د دفترونو تصویري راپورونه خپرول منعه کړل. وروسته د بشر حقونو د نقض پېښې او تحقیقي او انتقادي راپورونه خپرول منعه شول. په همدې حال کې له هلمند ولایت څخه یوې سرچینې روواداري ته ویلي چې د دې ولایت رسنۍ د خپل فعالیت د جواز د اخستلو یا تمدید لپاره مکلف دي چې یو لیکلی څو مادې درلودونکی سند لاسلیک کړي چې د بشر حقونو، د ښځو د حقونو او ډیموکراسۍ په څېر موضوعاتو د خپرولو ممنوعیت رانغاړي.

سره له دې، ډېرې موارد شته چې طالبانو رسنۍ له دې مقرراتو څخه د سرغړونو له امله تړلې دي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال په مارچ کې د طالبانو د اطلاعات و کلتور ریاست مسئولینو د مېرمنو د سیمه ییزې راډیو فعالیت په بدخشان ولایت کې له دې امله د یوې اونۍ لپاره بند کړی چې په یو مهال یې نعت او موزیک خپور کړی، او همدا راز ښځې کارکوونکې یې درلودې. د ۲۰۲۳ کال د سپتامبر پر ۲۹مه نېټه د استخباراتو اداري د اطلاعات و فرهنګ ریاست او امر بالمعروف او لوړو زدکړو ادارو سره په همغږۍ د یوې خصوصي رسنۍ فعالیت په دایکندي ولایت کې بند کړی او درې تنه خبریالان یې نیولي دي.

پر دې رسنۍ دا تور لګول شوی چې د طالبانو د سیمه ییز حکومت امر ته یې پاملرنه نه ده کړې چې د اسلامي امارت لاسته راوړنو ته به خبري پوښښ ورکوي.[18]

په همدې حال کې طالبانو د یو شمېر هغو مهمو رسنیو وېبپاڼې هم بندې کړې چې د AF ډومین له لارې فعالیت کاوه. هشت صبح او زاویه نیوز خبري اژانسونه د هغو مهمو رسنیو څخه دي چې ویب پاڼې یې په ۲۰۲۲ کې د طالبانو لخوا بندې شوې دي.

په بغلان ولایت کې طالبانو په شفاهي بڼه د انتقادي راپورنو او پروګرامونو خپرول منعه کړي او هغه رسنۍ او خبریالان چې له دې امر څخه یې سرغړونه کړې تهدید کړي او پوښتنې ګروېږنې یې ترې کړې دي. همد راز، په دې ولایت کې د طالبانو د اطلاعات و کلتور ریاست په ټولو هغو ناستو کې چې خبریالانو سره یې جوړوي، هغوی ته خبرداری ورکوي چې د مخالفو نظامي جبهو اړوند د خبرونو له خپرولو ډډه وکړي، او د سرغړوني په صورت کې به ترې پوښتنه وشي. په فراه ولایت کې د اطلاعات او کلتور ریاست ټولو رسنیو ته ویلي چې که غواړي خپل فعالیت ته دوام ورکړي باید د طالبانو د اسلامي امارت پر وړاندې له درېځ نیولو څخه ډډه وکړي، او خپل پروګرامونه د دوی له سیاستونو او غوښتنو سره په همغږۍ تنظیم کړي. د غور ولایت خبریالانو معلومات ورکړي چې دوی ته امر شوی چې د اسلامي امارت د طبعیت خلاف هیڅ راپور باید خپور نه کړي، او د دې ولایت رسنۍ باید د هر راپور له خپرولو مخکې له طالبانو سره همغږي او مشوره وکړي.

سره له دې دا مهال رسنۍ مکلفې دي چې د طالبانو د اسلامي امارت د سیاستونو بې پوښتنې پیروي وکړي او نشي کولای د هغوی د غوښتنو پر خلاف فعالیت وکړي. پر همدې بنسټ، نه یواځې د خپل نظر د مخالفو موضوعاتو د خپرولو اجازه هیڅ رسنۍ ته نه ورکوي بلکې کوم خبریالان چې انتقادي راپورونه یې خپاره کړي هغوی یې نیولي او شکنجه کړي دي.

## د کنټرول او ځپلو طریقې

طالبانو د خپلو سیاستونو بې قید و شرطه پیروۍ او کنټرول ته د رسنیو د اړیستولو لپاره تر اوسه بېلابېلې لارې او ابزار کارولي دي. د طالبانو د استخباراتو، امربالمعروف او اطلاعات او کلتور ادارې د خبریالانو په تهدیدولو، ویرولو، تاوتریخوالي، نیولو او زنداني کولو سره څنګه چې د دې راپور په مخکنیو برخو کې مطرح شو د رسنیو خپلواکي او د عمل آزادي په بشپړه توګه سلب کړې ده. د هیواد په ځینو برخو کې لکه په شرقي ولایتونو کې، د طالبانو د اطلاعات او کلتور ادارې د رسنیو او سیمه ییزو خبریالانو لپاره وټساپ ګروپونه جوړ کړي دي چې هغوی خپل راپورونه او خپرونې مخکې له خپرولو څخه اطلاعات او کلتور، استخباراتو او امر بالمعروف ادارو سره د همغږۍ په موخه شریک کړي.

**همدا راز د طالبانو د اطلاعات او کلتور ریاستونو د هیواد په ځینو نورو برخو کې لکه په بامیان او دایکندي ولایتونو کې د رسنیو ګډه کمېټه رامنځته کړې او په هره ناسته کې د سیمه ییزو رسنیو د فعالیت په ډول او د طالبانو د اسلامي امارت له پالیسیو سره د همغږۍ لپاره تصمیم نیسي. رواداري ته سرچینو ویلي چې په دې ناستو کې سیمه ییز مسئولین رسنیو ته امر کوي چې په کومو موضوعاتو خپرونې جوړې کړي او له کومو موضوعاتو ډډه وکړي.**

18 . رواداري، د حذف او ځپلو دوام: په ۲۰۲۳ کال کې د بشر حقونو د وضعیت راپور، د خپریدو نېټه ۲۰۲۴ مارچ. RW_Annual_Report_2023_Dari.pdf/03/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024

**سربېره پر دې، طالبانو په یو شمېر ولایتونو کې په استخباراتو اداره کې ځانګړې برخې رامنځته کړې دي چې د ټولنیزو شبکو د کاروونکو، خبریالانو او نورو وګړو د فعالیت څارنه وکړي. له غزني ولایت څخه سرچینو رواداري ته ویلي چې د استخباراتو په اداره کې د ټولنیزو شبکو د څارنې لپاره یوه برخه فعاله ده او د مشخصو کسانو لیست یې برابر کړی چې په ټولنیزو شبکو کې د هغوی فعالیت وڅاري. د استخباراتو د دې برخې اصلي دنده په ټولنیزو شبکو کې د طالبانو د منتقدو کاروونکو په نښه کول، نیول، تهدید او ویرول دي.**

**همدا راز، د دې راپور موندنو ښودلې چې د استخباراتو، امربالمعروف، اطلاعات و او کلتور اداري او امنیه قوماندانۍ د رسنیو د ځپلو او د خبریالانو د نیولو او بیندیانولو اصلي مرتکبین دي. یادي اداري له هرې ممکنې وسیلې څخه په استفادې د طالبانو له غوښتنو سره سم د رسنیو فعالیت کنټرولوي.**

د هیواد په جنوب-ختیځ کې د اطلاعات او کلتور او استخباراتو ادارو د رسنیو د استازو او د خبریالانو د ملاتړو بنسټونو په غړیتوب د رسنیو د سرغړونو کمیسیون رامنځته کړی چې تر ټولو مهمه دنده یې د رسنیو د فعالیت د څرنګوالي څارنه او د طالبانو د سیاستونو او نظریاتو د مخالفو خپرونو د خپرولو مخنیوی دی.

## د معترضانو نیول، شکنجه او وژل

په داسې حال کې چې انتقاد د بیان د آزادۍ له مهمو مصادیقو څخه دی او بین المللي اسنادو د ټولو وګړو لپاره په رسمیت پېژندلی؛ خو طالبان، لکه څنګه چې مخکې وویل شول، هیڅ ډول اعتراض او نیوکه نه مني او له خپلو منتقدینو څخه غچ اخلي. سره له دې، د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه تر اوسه ډېر کسان د انتقاد او د عقایدو او افکارو آزادانه څرګندولو او د خپلو مدني غوښتنو د تعقیب له امله نیول شوي، شکنجه شوي او حتا وژل شوي دي. د طالبانو د اسلامي امارت چارواکو بیا بیا ویلي چې د شته وضعیت اړوند انتقادي نظر او د ستونزو او ګډوډیو په اړه خبرې کول د اسلامي امارت د موقعیت تخریب ګڼل کیږي او له همدې امله سزا ورکول کیږي. هغوی خپل مخالفت حرام او د مخالفانو وژل واجب ګڼلي. لکه څنګه چې ندا محمد ندیم د کابل لپاره د طالبانو مخکني والي ویلي ؤ، چې د اسلامي امارت د سیاستونو د مخالفینو او معترضانو په له منځه وړلو کې به له هیڅ شي دریغ و نکړي.[19] د بېلګې په توګه، په فراه ولایت کې د خپل حاکمیت په لومړیو میاشتو کې د طالبانو ډلې ۳۱ تنه په ټولنیزو شبکو کې د اسلامي امارت د نقدولو په تور نیولي او شکنجه کړي دي. همدا راز، په بلخ ولایت کې ۸ تنه معترضې ښځې په ۲۰۲۱ کال کې د طالبانو پر وړاندې د اعتراضي پروګرامونو د جوړولو له امله په مرموز ډول ووژل شوې.[20]

19 هشت صبح ورځپاڼه، ۲۰۲۲ د جون ۹مه. https://8am.media/fa/taliban-governor-in-kabul-opponents-of-the-taliban-regime-must-be-killed/

20 رواداري، پر شا تګ او ځپل: په ۲۰۲۲ کال کې د بشر حقونو د وضعیت راپور.



**په تېرو نږدې درې کلونو کې طالبانو خپل مخالفین او منتقدین د «بلواګر» په نوم ځپلي، نیولي، شکنجه کړي او وژلي دي. د ټولنیزو شبکو یو شمېر کارکوونکو رواداري ته ویلي چې د نظر څرګندولو او انتقادي پوستېونو له امله د طالبانو له خوا امنیتي حوزو ته ور بلل شوي او نیول شوي دي**

**په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۳ کال د اپرېل په میاشت کې د دایکندي ولایت یو اوسېدونکی چې پر خپله فیسبوک پاڼه یې له هلکانو زده کوونکو غوښتنه کړې وه چې د تعلیم له حق څخه د نجونو د محرومیت په اعراض کې درسي ټولګیو ته حاضر نشي، د استخباراتو اداري له خوا ونیول شو او څلور ورځې په زندان کې وه. هغه رواداري ته ویلي چې: «طالبانو مې سر په پلاستیکي خلطه کې تاواوه او دوو کسانو له شپې تر سهاره په کوټکو وهلم او ویل یې چې اعتراف وکړم چې د چا له خوا مې ملاتړ کیږي.»**

په پروان ولایت کې طالبانو په پرله پسې توګه له رسنیو غوښتي چې د انتقادي راپورونو له خپرولو ډډه وکړي. هغوی څو ځلې په دې ولایت کې د درې فعالو رسنیو مسئولین د استخباراتو اداري ته احضار کړي او د طالبانو د نه نقدولو ژمنه یې ترې اخستې. همدا راز، په فاریاب ولایت کې سیمه ییزو سرچینو ویلي چې طالبان تل رسنیو او هیوادوالو باندې تاکید کوي چې د دوی پر فعالیت هر ډول نیوکه جرم ګڼل کیږي او مرتکبانو ته به یې سزا ورکړل شي.

د ۲۰۲۳ کال د اپریل پر ۴مه نېټه په بدخشان ولایت کې د پوهنتون یو استاد د ښځو پر مخ د ښوونځیو او پوهنتونونو د دروازو تړلو اړند د طالبانو د نقدولو له امله ونیول شو او یوه اونۍ یې په بند کې تېره کړه. د ۲۰۲۴ کال په فبروي میاشت کې د استخباراتو اداري د بغلان ولایت دوه تنه اوسیدونکي چې په فیسبوک ټولنیزه شبکه کې یې طالبان نقد کړي ؤ، ونیول شول او بندیان یې کړل. همدا راز، د ۲۰۲۳ کال په جون میاشت کې د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ یو اوسېدونکی چې د یو ښوونځي د فراغت په پروګرام کې یې د تعلیم له حق څخه د ښځو د محرومیت اړوند انتقاد کړی و د طالبانو له خوا ونیول شو او وروسته په ضمانت خوشي شو. په همدې ولایت کې په یوه بله پېښه کې د سیمې ۱۰ تنه اوسیدونکي د دې ډلې د رهبر ملا هبت الله د نقدولو له امله بندیان شول.

**د ۲۰۲۳ کال په اپریل میاشت کې د کندهار ولایت یو مدني فعال پر خپل فیسبوک پاڼه د ښځو او نجونو پر مخ د ښوونځیو د بندېدو په اړه د انتقادي پوسټ د خپرولو له امله ونیول شو او ۲۰ ورځې بندي کړای شو.**

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د طالبانو هره اداره د دې واک لري چې د طالبانو د منتقدو کسانو د نیولو اقدام وکړي. لکه څنګه چې د فاریاب ولایت د میمنې ښار د اولې ناحیې یو اوسېدونکی، چې په یوه رسنۍ کې یې د طالبانو د شاروالۍ له کم کارۍ څخه شکایت کړی و، ونیول شو.

## د خبریالانو ځورول، نیول او شکنجه کول

د دې راپور د موندنو پر بنسټ طالبانو په پراخه توګه خبریالان ځورولي، نیولي او شکنجه کړي دي. پر دغو خبریالانو د انتقادي رپوټونو خپرولو، د امنیتي پېښو، مدني او عدالت غوښتونکو راټولېدنو او د ملي مقاومت جبهې او د آزادۍ جبهې د بریدونو خبري پوښښ تور و. لکه څنګه چې د ۲۰۲۲ کال د ډسامبر پر ۱۵مه نېټه د طالبانو د استخباراتو ادارې د تخار ولایت یو خبریال د طالبانو پر وړاندې د انتقادي راپور د خپرولو په تور ونیو او شکنجه یې کړ. همدا رنګه، د ۲۰۲۲ کال د اپربل پر ۷مه نبته د کندهار ولایت یو خبریال په داسې حال کې چې د اطلاعات و فرهنګ ریاست جواز یې هم درلود او د یوې امنیتي پېښې د راپور برابرولو لپاره یې روغتون ته مراجعه کړې وه، د طالبانو له خوا و نیول شو او هلته د درې ساعتونو لپاره توقیف شو.[21]

د ۲۰۲۱ کال د سپتامبر پر ۹مه نېټه په پروان ولایت کې دوه تنه خبریالان هغه مهال د طالبانو له خوا ونیول شول چې د طالبانو او «ملي مقاومت جبهې» تر منځ د جګړې خبري پوښښ لپاره پنجشېر ته تللي ؤ. طالبانو دا خبریالان د خپلو مخالفینو لپاره د جاسوسۍ په تور ونیول چې یوه ورځ وروسته له بنده خوشې شول. همدا راز د ۲۰۲۲ کال په جنوري میاشت کې په غزني ولایت کې د طالبانو قوماندانۍ د خبریالانو د اتحادیې مرستیال ونیو او شکنجه یې کړ. د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ۱۰مه نېټه د استخباراتو ادارې دوه تنه خبریالان په ننګرهار ولایت کې د یو انتقادی راپور او موسیقي خپروله او د خبریالۍ ښوونیز کورسونو جوړولو په تور ونیول چې له ۳۲ ورځو وروسته په ضمانت خوشې شول. طالبانو له دې کسانو ژمنه اخستې چې له رسنیو او حقوق بشري بنسټونو سره د خپل زندان تجربې شریکې نه کړي.

د افغانستان د خبریالانو مرکز ویلي چې د ۲۰۲۳ کال په اوږدو کې یې خبریالانو سره د تاوتریخوالي، تهدید او د هغوی د نیولو کم تر کمه ۲۱۳ پېښې ثبت کړې دي چې دا شمېرې د ۲۰۲۲ کال په پرتله ٦٨ فیصده زیاتوالی ښیي.[22]

21 . رواداري، د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو د وضعیت راپور، د خپرېدو نېټه ۲۰۲۳ اګست. https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf

22 . د افغانستان د خبریالانو مرکز، ۲۰۲۳ کال د می ۲مه: https://afjc

## خبریالانو سره د تاوتریخوالي قضیو ته نه رسیدنه

لکه څنګه چې د راپور مخکنیو برخو کې مطرح شو، طالبانو واک ته له بیا راستنېدو سره په سیستماتیک او هدفي ډول د بیان او مطبوعاتو د آزادۍ د حق د ځپلو اقدام کړی او په دې موده کې په پراخه توګه د خبریالانو د ځورولو، هغوی سره د ناوړه چلند او تاوتریخوالي مرتکب ګرځیدلي دي. له یوې خوا یې هغه حقوقي میکانیزمونه چې د حاکمې ډلې د بې ځایه چلندونو پر وړاندې د خبریالانو ملاتړ وکړي له منځه وړي او له بل پلوه یې د خبریالانو ملاتړي بنسټونه سخت محدود کړي دي. همدارنګه، د رسنیو چارو ته د رسیدو لپاره د طالبانو په ادارو کې مشخصه مرجع نشته. د همدې له مخې، دا مهال خبریالان د خپلو شکایتونو د ثبت او تعقیب امکان نه لري او هم عدلي او قضایي بنسټونه خبریالانو سره د شویو تاوتریخوالو د قانوني څېړلو لپاره کوم اقدام نه کوي. که څه هم په افغانستان کې د خبریالانو ملاتړي یو شمېر بنسټونه شته خو طالبانو یې صلاحیتونه خورا محدود کړي دي او یاد بنسټونه نشي کولای د حاکمې ډلې د غیر قانوني چلندونو پر وړاندې د رسنیو او خبریالانو ملاتړ وکړي.



AP Photo/Hussein Malla



انځور: سهراب عمر

## درېیمه برخه

# پایــله او وړانــدیزونه

## پایله

لکه څنګه چې د دې راپور موندنو ښودلې، طالبانو په افغانستان کې په سیستماتیک او پروګرام شوي ډول د بیان آزادۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي حق محدود کړی، او د فشار له بېلابېلو ابزارو څخه په ګټې اخستنې یې رسنۍ د خپلې خوښې د سیاستونو او غوښتنو پیروۍ ته مجبورې کړې دي. دا مهال د بیان د آزادۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي د تضمین لپاره هیڅ قانوني میکانیزم نشته، چې دا د خلکو تر ټولو مهم بشري حق دی، او طالبان د بشر حقونو د بین المللي اسنادو اړوند خپلو ژمنو ته له اعتنا پرته د وېرې او رعب د فضا په رامنځته کولو رسنۍ د خپلو سیاسي او ایډیالوژیکو ګټو لپاره کنټرولوي. سره له دې، دا مهال رسنۍ او مطبوعات یواځې هغه اطلاعات خپرولی شي چې طالبان یې د هغوی په واک کې ورکوي. نور مسائل بحث کول په ځانګړي ډول د بشر حقونو د اړوندو پېښو، مدني اعتراضونو، انتقادي دریځونو، اداري فساد، د طالبانو له خوا ترسره شوي جرائم او د مخالفو ډلو فعالیت ته پوښښ ورکول د خبریالانو او د رسنیو د مسئولینو په نیولو، بندیانولو او شکنجه کولو تمامیږي. د طالبانو درې بنسټونه استخبارات ا امربالمعروف او د اطلاعاتو او کلتور اداري د دې محدودیتونو په اعمالولو کې کلیدي نقش لري.

له بل پلوه، د حاکمې ډلې د توپیري سیاستونو په پایله کې ډېری ښځو خبریالانو خپلې دندې له لاسه ورکړې دي چې له دې څخه یواځې کمې ښځې توانېدلې دي چې د هیواد په ځینو برخو کې د امربالمعروف اداري د ټاکل شویو سختو شرایطو په رعایت سره خپل کار ته دوام ورکړي. په یو شمېر ولایتونو کې ښځې نه یواځې دا چې په رسنیو او مطبوعاتو کې د کار حق نه لري بلکې د غږ خپرول یې هم منعه شوي دي.
له دې هر څه سره، طالبان د روان وضعیت او بې شمېره ننګونو سره چې رامنځته کړې یې دي، ځواب نه وایي او د هرې ورځې په تېرېدو سره د بیان د آزادۍ او د رسنیو د آزادۍ د حقونو د محدودولو لپاره لا سخت مقررات وضعه کوي.

## وړاندیزونه

روادارۍ د دې راپور موندنو ته په پام سره او په افغانستان کې د بیان آزادۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي ناوړه وضعیت ته د رسېدنې لپاره لاندې موارد اړوندو بین المللي مراجعو او حاکمو مقاماتو ته وړاندیزوي.

### الف - نړیوالې ټولنې ته

- دا چې د بیان د آزادۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي حق د بشر حقونو د نورو مصادیقو د تحقق لپاره اړین شرط دی او هیوادوالو ته د هغوی د برخلیک اړوند تصمیم نیونو کې د اغېزناک ګډون امکان برابروي، له نړیوالې ټولنې غواړو چې د حاکمو چارواکو له خوا د بیان آزادۍ او اطلاعاتو ته  د لاسرسي د حقونو د نقض د ټولو مواردو د ختمولو لپاره اغېزناک فشار راوړي.
- د بیان د آزادۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي د حقونو تامین قانوني او اجرایي اقداماتو ته اړتیا لري، له نړیوالې ټولنې غواړو چې پر طالبانو د قانوني فشار په راوړلو سره اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون او د ټولیزورسنیو قانون د بیا تنفیذ زمینه برابره کړي
- د خبریالانو ملاتړو بین المللي سازمانونو، حقوق بشري سازمانونو او رسنیو څخه غواړو چې اوسنیو سختو شرایطو ته په کتو په افغانستان کې د شته رسنیو او خبریالانو او په ځانګړې ډول د ښځینه خبریالانو اغېزناک ملاتړ وکړي.
- د ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړو چې په افغانستان کې د خپلې استازولۍ د دفتر له لارې د حاکمې ډلې د بې ځایه فشار، ځپلو، ځورولو او نورو غیر قانوني چلندونو پر وړاندې په افغانستان کې د ښځینه او نارینه خبریالانو ملاتړ وکړي.

### ب - حاکمو چارواکو ته

- له حاکمو چارواکو غواړو چې د بشر حقونو د بین المللي اسنادو سره سم، د رسنیو پر ښځینه کارکوونکو، ښځینه خبریالانو او په ښځو پورې پر اړوندو رسنیو د لګول شویو محدودیتونو د له منځه وړلو لپاره اقدام وکړي او خپلو تبعیضي سیاستونو ته د پای ټکی کېږدي.
- له طالبانو څخه د حاکمې ډلې په توګه غواړو چې د بیان د آزادۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې د افغانستان بین المللي ژمنو باندې عمل وکړي او د رسنیو او مطبوعاتو پر فعالیت وضعه شوي محدودیتونه لرې کړي.
- له حاکمو مقاماتو غواړو چې اطلاعاتو ته د لاسرسي او د بیان آزادۍ د حق د تامین، د رسنیو د عمل د خپلواکۍ او آزادۍ او د خبریالانو د مصئونیت د تامین لپاره ټول مخکني اړوند قوانین په بشپړه توګه نافذ کړي او په دې برخه کې پر خپلو ژمنو عمل وکړي.
- له حاکمې ډلې غواړو چې د فساد د له منځه وړلو، د شفافیت، ځواب ویني او حساب ورکولو د تامین لپاره خپلو قانوني مسئولیتونو ته پاملرنه وکړي، د مخکنیو قوانینو د عملي کولو اقدام وکړي او اطلاعاتو د لاسرسي او د بیان د آزادۍ حق ته د لاسرسي خنډ و نه ګرځي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې د خبریالانو د ملاتړو بنسټونو قانوني صلاحیت ته درناوی وکړي او د هغوی پر فعالیت وضعه شوي محدودیتونه له منځه یوسي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې په بند کې ټول خبریالان خوشې کړي او د خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو د نه نیولو، نه زورولو، نه تهدیدولو او نه شکنجه کولو په برخه کې پر خپلو قانوني دندو عمل وکړي.

WWW.RAWADARI.ORG

